**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ

۲۰۲۳/۰۶/۰۷

# د جمهوریت د سقوط عوامل
# د جنګسالارانو ونډه

(نهمه برخه)



(حامد کرزی او یهود توکمه ریچارډ هالبروک)

**تر ټولو ستر ورانوونکی، په سیاسي جامه کې، جنګسالار ډاکټر عبدالله، عبدالله (۲)**

**د ۲۰۰۹ز، کال ولسمشریزې ټاکنې او عبدالله**

ډاکټر عبدالله چې پښتانه یې ترهګر بلل له کلونو راهیسې یې د اشغالګرو او شمالي ټلوالې د ځواکونو په وسیله په بېلابېلو ډولونو وژلي، شکنجه کړي، بندیان کړي او بمبار کړي وو خو برعکس حامد کرزی د امریکایانو د دا ډول ظلمونو او تېریو پر وړاندې سخت مخالفت کاوه او د امریکایانو د جنایتونو په مخ ولاړ ؤ. هغه وو چې امریکایان په دې هڅه کې شول چې حامد کرزی د ۲۰۰۹ز، کال په ټاکنو کې بریالی نه شي او له مخې یې لیرې کړي، امریکایانو د افغانستان د راتلونکي ولسمشرۍ لپاره د حامد کرزي، امریکا ضد دریځ څخه په تجربه، غوښتل داسې یو کمزوری، تر لاس لاندې او ضعیف النفسه کس غوره او ملاتړ ترې وکړي چې په راتلونکي کې د امریکایي ځواکونو د جنایتونه پر وړاندې خنډ نه شي، ډاکټر عبدالله یې چې د شمالي ټلوالې له لویو وطن پلورونکو او خایینانو څخه ؤ، ولسمشرۍ ته نوماند کړ، عبدالله ته چې ډېرو افغانانو د دښمن په سترګه کتل، نوموړی په دې پوهیده چې په ټاکنو کې نه شي بریالی کیدی خو امریکایانو هڅولی ؤ چې ګواکې د ولسمشرۍ ټاکنې د امریکایانو په لاس کې دي، د حامد کرزي د ماتې او د عبدالله د بریا په موخه د امریکا د ولسمشر، اوباما، په ځانګړي توګه مرستیال ولسمشر جو بایډن له خوا دوه تنه امریکایان ریچارډ هالبروک (یهودی) او یو بل کس پیټرګالبریټ وټاکل شول خو د دوی پر وړاندې حامد کرزي ډېر ښه مقاومت وکړ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په دي اړه د امریکا متحده ایالاتو د هغه مهال دفاع وزیر رابرت ګېټس د خپلو خاطرو په کتاب کې لیکي:«د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا متحده ایالاتو ځانګړي استازي ریچارډ هالبروک په دې هیله چې ټاکنې دویم پړاو ته ولاړې شي، د کرزي د سیاسي مخالفینو ملاتړ کاوه.»

ګېټس زیاتوي:«هالبروک ټول هغه څه چې امکان یې درلود وکړل، څو کرزی په ټاکنو کې ناکام شي، هغه غوښتل چې په ټاکنو کې ډېر کسان ځانونه کاندید کړي، تر څو د کرزي د ډېرو رایو لاس ته راوړلو مخنیوی وکړي او ټاکنې دویم پړاو ترسره شي.» (www.dw.com/ps) ([1])

ډاکټر عبدالله چې د خپل باند له خوا ولسمشرۍ ته نوماند ؤ، په خپلو ټاکنیزو تبلیغاتو کې د ډېرو ناوړه تبلیغاتو تر څنګ، د افغانستان تجزیه غوښتونکو ته دا هم وویل که بریالی شي نو په افغانستان کې به فدرالي نظام رامنځ ته کړي چې په هېواد کې د دا ډول نظام راوستل د متحد افغانستان د تجزیې بنسټ جوړوي، په دې هکله په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د هغه مهال استازی کای ایده لیکي:«ډاکټر عبدالله یو شمېر خلک د خپل منظم کمپاین تر اغېز لاندې راوستل، د نوموړي اصلي خبره دا وه چې اوسنی ریاستي نظام به بدلوي او سیمه ییز نامتمرکز نظام به رامنځ ته کوي.» (په افغانستان کې د واک پر سره شخړه، ژباړن: سمیع الله ایلم، ۲۱۰مخ)

کله چې ټاکنې ترسره شوې، د ټاکنو د لومړیو پایلو له اعلانولو وروسته چې حامد کرزي نږدې پنځه پنځوس سلمه رایې ګټلې وې نو عبدالله خپله د ماتې چاره په اوبو کې ولیده او په حامد کرزي یې تور پورې کړ چې په ټاکنو کې یې درغلی کړې دي، نه یوازې په حامد کرزي یې د درغلیو تورونه ولګول، بلکې د ټاکنو پر کمیسیون او په کابل کې د ملګرو ملتونو په ځانګړي استازي کای ایدې یې هم تورونه پورې کړل چې د حامد کرزي په پلوۍ یې درغلی کړې دي.

هغه وو چې د حامد کرزي پر وړاندې د بهرنیو او کورنیو دسیسو له امله د یو شمېر ټاکنیزو مرکزونو رایې د شکایاتو کمیسیون ته د پلټنو په موخه وسپارل شوې چې په پایلې کې د کرزي رایې په لوی لاس له یو  پنځوس سلنې راکمې کړای شوې چې له امله یې ټاکنې دوه ېم پړاو ته ولاړې.

وروسته له ډېرو خبرو اترو کرزي د دویم پړاو ټاکنو ترسره کېدل ومنل، حامد کرزی په کلک هود سره په داسې حال کې چې چېنه یې په اوږو نه وه په تلویزیون را څرګند شو، ویې ویل چې دویم ځل ټاکنو ته چمتو دی خو عبدالله دویم پړاو ټاکنو ته تېنګ نه شو، عبدالله په دې پلمه چې د ټاکنو کمیسیون او څو تنه وزیران چې د کرزي پلویان دي هغه دې تبدیل شي، که داسې ونه شي له دویم ځل ټاکنو سره به پرېکون وکړي. عبدالله پوهېده چې دا ځل به له پخوا هم سخته ماتې وخوري ځکه هغه خلک چې په لومړي پړاو کې یې کرزي ته رایې نه وې ورکړې، دې ته تیار شول چې کرزي ته رایې ورکړي.

حامد کرزي ته څرګنده وه چې ټاکنې یې ګټلې دي په حقیقت کې کرزي (۵۴،۱) سلنه رایې ترلاسه کړې وې او ډاکټر عبدالله (۲۸،۱) سلنه رایې خپلې کړې وې خو د امریکایانو د مداخلو او جعل کاریو له امله لومړي ځل ټاکنو پایلې داسې اعلان شوې:«حامد کرزی:۴۹،۶۷ سلنه؛ ډاکټر عبدالله ۳۰،۵۹ سلنه؛ رمضان بشر دوست:۱۰،۹۴ سلنه؛ او اشرف غني احمد زی: ۲،۹۴ سلنه.  (رنګین دادفر سپنتا: سیاست افغانستان؛ روایتی از دورن. ۲۸۰مخ)

سربېره پر دې چې کله یهودی هالبروک، د حامد کرزي له کلک درېځ سره مخ شو او په دې پوه شو چې عبدالله په بیا ځلې ټاکنو کې نه شي بریالی کېدی نو «ډاکټر عبدالله ته یې وویل چې ته په ټاکنو کې د بریالیتوب امکانات نه لرې نو د ټاکنو په دویم پړاو کې د کرزي پر وړاندې له اشرف غني څخه ملاتړ وکړه.»

دویم پړاو ټاکنې ترسره نه شوې په داسې حال کې چې جان کیري په خپل دیني کتاب **(انجیل)** لوړه کړې وه چې:«زه ضمانت کوم چې د دویم پړاو ټاکنې به ترسره کیږي» (هماغه کتاب.۲۸۰مخ)

هالبروک چې غوښتل یې په خپلو شیطان دوله یهودي کړنو سره کرزی ناکام او عبدالله بریالی کړي، د هغه لومړی هدف دا ؤ چې ټاکنې دویم پړاو ته ولاړې شي چې په دې پلان کې بریالی شو خو وروسته چې دویم ځل ټاکنې ترسره نه شوې نو  هالبروک په خپل یهودي چل او توطیه کې پاتې راغی او حامد کرزي په حقیقت کې له امریکا په ځانګړې توګه له یو متعصب یهودي او د هغه له غلامانو چې په سره کې یې عبدالله ؤ، میدان وګاټه.

په پای کې حامد کرزي خپل حکومت جوړ کړ او عبدالله له هر څه ووت. **(نه د دین شو نه د دنیا!)**

---

[1] ـ په دې اړه د کتاب په یو بل خپرکي کې (د ۲۰۰۹ز، کال د ولسمشریزو په ټاکنو کې د امریکایانو لخوا د حامد کرزي د ګوښه کېدلو هڅې) تر سرلیک لاندې مالومات خپرېږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

 

نېټه:۱۴۰۲/۳/۱۷ل. ل

**نور بیا**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ